


د پښتو ژبې له پېژندل شوي لیکوال، تکړه ژورنالیست، ژباړونکي، نوښتګر کیسه لیکونکي او خوږ ژبي شاعر ښاغلي علم ګل سحر سره ادبي مرکه :

مرکه وال : انجنیر عبدالقادر مسعود

زموږ د لرغوني هیواد په هنري، ادبي او فرهنګي ډګر کې په تیره بیا د شعر په ګلبڼ کې رنګارنګ ګلونه ټوکیدلي او غوړیدلي دي. دوی په خپلو ښکلو او رنګینو اثارو کې زموږ د ملي ژوندانه په بیلابیلو برخو کې داسې انځورونه کښلي دي چې د ادب او فرهنګ مینه وال په لوستلو، لیدلو او اوریدلو یې ترېنه خوند اخلي.

د پښتو ادب په بڼ کې علم ګل سحر هغه تکړه لیکوال او نوښتګر شاعر دی، چې په اثارو کې یې د هنري، عاطفي، انساني مینې او ښکلاییز ذوق شتوالی او په ادبي ، سیاسي او ټولنیزو برخو کې یې انځورونه داسې کښلي دي چې په لوستلو یې د هر دردمن او با احساسه انسان په زړه کې د انساني او سپیڅلې مینې او معنوي غوښتنو ولولې راپاروي، او لوستونکي دې ته اړ باسي چې د خپل هیواد د لوړتیا او د ملي ګټو په ساتلو او ټینګولو او د خپلې ژبې او پښتو ادب د پرمختګ او پراختیا په لاره کې اغیزمن او ارزښتمن ګامونه پورته کړي.

ښاغلی علم ګل سحر د محمد سلیم زوی دی چې پر (۱۳۴۲لمریز= ۱۹۶۳ زیږدیز) کال کې د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی د اسلام خیلو په کلي کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي. لمړنۍ زده کړې یې د (زرملي باتو ) ښوونځي کې، ثانوي زده کړې یې د غزني د (شیخ عطار ) په لیسه کې او لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځۍ کې سر ته رسولې دي.

رسمي، علمي او ټولنیزې چارې او دندې :

- د پوهني وزارت علمي غړی

- د سواد مجلې مرستیال

- د عرفان مجلې مرستیال او مسوول

- د کورنیو چارو وزارت کارکوونکی

- د بي بي سي راډیو لیکوال

- د ازادي راډیو ویاند او پرودیوسر

- د لمر تلویزیون عمومي ایډیټور

- د قلم ادبي مجلې مسوول مدیر

- د ولسمشر د ویناوو لیکوال

- د ولسمشر د دفتر د برنامو ریاست د مکاتباتو او عامه اړیکو مسوول

- د ولسمشر د دفتر د برنامو ریاست مرستیال

چاپ شوي اثار يې په لاندې ډول دي :

- د سپوږمۍ ښکالو دشعرونو ټولګه

- د لمر جنازه د شعرونو ټولګه

- د پاریال خوبونه د شعرونو ټولګه

- پاس سپوږمۍ ده، لاندې ته يې د شعرونو ټولګه

- ستوري دماشومانو لپاره د  شعرونو ټولګه

- لاهم خارمه ستا لارې دشعرونو ټولګه

- زه یم تږی ته اوبه يې د شعرونو ټولګه

- مینه او وسواس د کیسوټولګه

- مینه او جګړه - ( ناول )

- د انار تر ونې لاندې دتورنتو اوښکې - ناول (ژباړه)

- شیطا ن څراغ دطنزيه کیسو ټولګه

- چرګه او کوتره دماشومانو لپاره کیسې

- خاموش فیلیسوف د مقالو ټولګه

- د متلونو کیسي او نور معلومات - ( فولکوریک اثر)

- د متلونو کیسي خبرې له خبرو پیدا کیږي

د یادوني وړ ګڼم د سحر صاحب په سلګونو مقالي د هیواد او بهرنیو مطبوعاتو له لارې خپرې شوي دي.

تر چاپ لاندې اثار :

- د عرفان مجلي تاریخچه او نیولیک تحقیقي اثر

- د دوندر لیوان – ناول (ژباړه)

ناچاپ اثار :

- د ښاپیرۍ په لټه د کیسو ټولګه

- خو ته مي ونه لیدي د شعرونو ټولګه

- کاروانونه د بګوا په دښت تیریږي د سندرو او نارو په اړه څیړنه

- ژوند په شیبو کې تحقیقي اثر

د ښاغلي علم ګل سحر ارزښتمن، ګټور علمي ، ادبي، تحقیقي او ژباړل شوي اثار زموږ د پښتو ژبې اوادبیاتو د علمي کیدو په لور او د ده نه ستړیکیدونکې او تلپاتې هلې ځلې په دې برخه کې د خورا قدر او ستاینې وړ دي.

- زموږ د پښتو ژبې او ادب نامتو او پیاوړی لیکوال، رسنوال او تکړه وینا وال استاد پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي علم ګل سحر په اړه داسي کښلي دي :

(( .... څه پاسه دري لسیزې وړاندې زموږ د پوهي، فرهنګ او بیا شعر وادب په خزانزمولني نارنجیستان کې داسي یو څو اور اورکي وزمه لندې ګندې شیبې راوټوکیدې چې د پیریو پیریو نا غوریدلي مروري ګلغوټۍ یې پر خندا راوستې.

نارنجیستان په یو واریز ډول د رنګارنګ ګلانو کوربه شو او بې شمیره خوږ غاړي چونې یې پر ځان رامات کړل...

علم گل سحر د پوهې فرهنګ او شعرو ادب له هماغه ړومبني غورځنګ سره د راټوکیدلي ځوان پښت او بیا یې یو تاند و تنکی غورځاوڼ  وو چې نوښتګرانه سیالیو دیته راوڅکاوه ، له ادبپوهنځي را نښلولي  شاعرانه مشقونه او ازمیښتونه  نور په کتابچو کې پرېږدي او په ټوله مانا نوي لار و لیله  پر مخ واخلي.

له نورو  همزولو او هملارو سره  د سیالی له لارې د ده چټک او پرلپسې پر مخیون، نه یوازې په  لوړ استعداد او ډېر کارو زیار، بلکې تر هرڅه له مخه په دې کې نغښتی چې تر ځانګیزو زده کړو راروسته  یې داسې کارو دندې ته مخه نه ده کړې چې کتاب وقلم یې له لاسه پرېوځي، یاپه نورو ټکو، د  ادب و فرهنګ له اوېچې ووځي.

د ښوونې روزنې وزارت له خپرنی اورګان(عرفانه) رانیولې، تر بي بي سي راډیو او بیا د هیواد مشری تر دوتره پورې رسنوالي او لیکوالي هغه څه دي چې له شعر وادب سره یو ټینګ اړاو تړاو لري. همدا چې یې له رسمي لیک لیکانۍ څخه یوه ارامه سا هومره اخیستې، خپلو هستونو ته یې مخه کړې، هرو مرو یې یوڅه پیلي او نا پیلي د کاغذ او یا سولګر پر مخ کښلي او له مینه والو سره یې شریک کړي دي.

په ترځ ترځ کې یې شعري او داستاني پنځوني او ادبي ژباړې او ولسو نښیرونو ته رسولي او د چاپ په پساله پسوللي دي...  ))

سحر صاحب په خپلو ادبي پنځونو او شعرونو کې د مینې او محبت سوز او ګداز، خپل انساني پیغامونه، اندونه،  ملي جذبات او ریښتیني  احساسات ، کنایات، تشبیهات، استعارات او د شعري ترکیبونو اصطلاحات په شعري الفاظو کې په خوږه او شاعرانه ژبه په ډېر ښکلي او ظریفانه ډول انځور کړي دي. د ده شعري ژبه خوندوره، ساده، روانه، کره او معیاري ده.

- ښاغلی نظیف تکل چې زموږ دهیواد یو تکړه  لیکوال او شاعر دی په خپله یوه لیکنه کې د سحر صاحب په اړه داسې کښلي دي :

((.... سحریو عاطفي اوصمیمي شاعر دی، شعر یې د شخصیت کټ مټ نماینده دی. او زما پخوانی یار دی.

ده د وطن ټولو ناخوالو ته اوږه  ورکړه ، او ما ترې سترګې را پټې کړې.

ده کوڅه په کوڅه ، کور په کور جنګ ، نیول ، بندي کول ، په سرونو کې د میخونو ټکوهل او ډول ، ډول شکنجې په سترګو ولیدې او ما د مهاجرت درد په زړه تیر کړ.

دی د بچو د یوې مړی ډوډۍ په پیدا کولو پسې د کابل په وینو سرو کوڅو کې سرګردانه وګرځید، کله کله یې د خپل کار په بدل کې یو من غنم ماښام کور ته را وړه ، خو د بل وطن دال او چپاتیو ته یې زړه ښه نه کړ. او ما د مسکو په رینکونو (بازارونو) کې د خپلې ځوانی خولې توی کړې.

دغه ټولو سختیو او نا خوالو د سحر په ټولو هنري اثارو خپل اغیز پریښود، که یې شعرلولو کـه یې لنډې کیسې او ناول لولو ، په ټولو کې د جګړې ضد خبرې شته.

په ډیرو شعرونو او لنډو کیسو کې یې یو ډول مایوسي او بې وسي محسوسیږي. سحر د جګړې یوه غاړه هم تاید نه کړه ، یواځې د خپل قلم سره پاتې شو او تلپاتې هنري اثار یې وپنځول.

د ده د شعر روح او احساس عاطفي او صمیمي شو نـه انتقامي. او دې د سحر دهنري شخصیت اډانه جوړه کړه.

دی د افغان ادبي بهیر یو فعال او ځلاند غړی دی او د میرمن بهیر په جوړیدا کې خویې هڅې د ډیرې ستاینې وړ دي.

زموږ د یوڅو تنو شاعرانو او لیکوالو اثار که ډیر لوستونکي ولري ، یو په کې سحر دی.

سحر یو عاطفي او صمیمي شاعر دی...))

ستاسو درنو ادب پالو او مینه والو پاملرنه د دغې تکړه شاعر د یو شمیر شعرونو ځو بیلګو ته را اړوم :

توره شپه خوره کړي، شمعه پته له پتنګه شي

کرکه زما زیاته نوره هم له دغه جنګه شي

تا تولې خبرې راته بیا په خندا وکړې خو

دغه راته وایه دسبا وعده به څنګه شي

ته خو ښه پوهیږې خو بیا هم د ناز خبرې کړې

دغسې نازو ته زما ژر حوصله تنګه شي

زه یې په زړه لاس کیږدم، د زړه درزا یې واورمه

هغه چې په ناز زما په غیږه کې رارنګه شي

ماته په یادګار د زلفو درې تارونه پرېږدي ځي

زړه نازړه غرمه چې مې روانه له پالنګه شي

ته به هم زاهده زور د مينې ته لاس پورته کړې

تاته په خندا که چيري ښکلې غنمرنګه شي

ته به وايې دلته د انسان روح قبضه شوې ده

کله چې زموږ کلي محروم د ډول له ډنګه شي

او يا وايي :

ته

دا ته څوک يې؟

چې زما د تخييل کوڅو کې ګرځې

دا ته څوک يې چې پخپل سر ورته راغلې

او زما د ذهن خونه کې ديره شوې

دا ته ځوک يې چې مې ستړې روح ته وايې :

- راشه راشه لږ مې سترګو کې دمه شه

دا ته څوک يې؟

دا ته څوک يې،

چې زما د شعور لاندې بڼ کې ګرځې

د ماضي له خاطرو مې کړې غلاګانې

دا ته څوک يې چې مې ځان پلو درکاږې

راته وايې چې وجود دې دی نيمګړی

راشه راشه چې نور نيم وجود دې زه يم

داچې ته يې، دا ته نه يې دا هم زه يم

زه دې روح يم، زه دې ژوند يم زه هرڅه يم

آی آی دا ته څوک يې؟

دا ته څوک يې چې د زړه کور کې ديره شوې

زما عقل دې په سترګو کې درواخيست

زما د ژبې زما د زړه اختيار دې واخيست

آی

دا ته ...دا...ته ... ته ته ته ...ت ت ت ت ....!!!؟

او يا وايي :

ستا له تلو وروسته

لکه مني کې ديوال وکړي درزونه

يا په دښته کې ولاړه سپيره خونه

د زاړه زيارت د خوار ملنګ کوډله

پري رپيږي ځيري، ځيري بيرغونه

يا مين چې معشوقه چې ترې ژر جدا شي

ورته پاته يې د زلفو درى تارونه

له جګړې وروسته د کلي تنها ونه

چې رامات يې وي له ويرې ټول ښاخونه

يا وطن مې چې د روس له يرغل وروسته

په هرکلي يې پراته د وير ګرزونه

وران کابل د توپکيانو د وختونو

پرې واکمنې وي، څو ډلې تنظيمونه

د شهيد پلار چې په کړوپه ملا روان وي

د زوی غم يې ور وچ کړي اندامونه

ځوانه کونډه د خاوند قبر ته ناسته

پکې غواړي تللي تللي ارمانونه

يا مرغه چې هيڅ الوت کولی نه شي

کوم ښکاري يې ورمات کړي وي وزرونه

ته ترې ولاړې زړه مې داسې نيمه خوا شو

ورته پاتې ستا د ميني څو يادونه

او يا وايي :

غزل

زړه مې له تا څخه راتول کړم، تاته بيرته راشي

لکه پتنګ د رڼايي ځلا ته بيرته راشي

ارمان مې ستا تر اننګو ورسي، بيرته راشي

لکه افغان پرمختګ وکړي، شاته بيرته راشي

آزادي نه غواړي پخپله ځان بندي کړي راشي

د ځنځيرونو، زولنو شرنګا ته بيرته راشي

د يتيم سر باندې لاس تير کړه، په تندي يې ښکل کړه

که دغه ګل له چا خپه شي، چاته بيرته راشي

ستا د وصال خيال وي سر زورى ماشوم هيڅ نه مني

چې نن يې و رټم خو بيا سبا ته بيرته راشي

ته دومره ليرې رانه ولاړې چې بيا هيڅ رانغلې

ياد دې له مانه شيبه ولاړ شي ماته بيرته راشي

او يا وايي :

غزل

ځومره ډېر مې خپل جانان رابانديې ګران دی

لکه ځان لکه ایمان رابـــــانديې ګـــران دی

لکه خپلــه خـــــــــوږه ژبـــه راتــه ګرانه

لکه ګران افغانســتان رابـــانديې ګــران دی

زه یـــــــــــو تـږی لاروی یمــه د مـــینې

د رڼـــو اوبـــو په شـــــــان را بانديې ګران دی

ماشومـتوب دی، هوســیږم يې ځـــــلا ته

لکه ســتوری د اسمان را بـانديې ګــران دی

دوی حـیران دي چې په تا ولې مـــین یم

دا خو ځکه چې انسان رابــانديې ګــران دی

اویا وایي :

غزل

زمونږ وطن ته لوګي مخکې، رڼا وروسته راځي

اول ژړا وي فریادونه، خندا وروسته راځي

وسلې راولیږي او غلي راته ووايي چې :

د ډوډۍ غم مه کوئ، دغه سخا وروسته راځي

هغه سپوږمۍ ده، خو سپوږمۍ غوندې تنها نه راځي

تر مخ يې ډار د بیرته تلو وي او دا وروسته راځي

په کومو ګلو به ستا مینه ماتومه ګلې

سپرلې راځي، خو وايي ښکلې تر تا وروسته راځي

د تسبو لړ نه یوې ښکلې ته امیل جوړوي

لمونځ قضاء کيږي، نيت تړئ چې ملا وروسته راځي

يتيم ماښام پورې په خاورو کې لوبيږي وايي:

يوازې نه ځمه خپل کورته، بابا وروسته راځي

دوی وايي وکړئ ګوزاره له ښامارانو سره

ډير زورور دي، کوه طور نه امساء وروسته راځي

او يا وايي :

ستا د ښکلا د خپلولو هيله هم نه لرم

د خپلو سترګو د ساتلو هيله هم نه لرم

په ويدو سترګو دې زما زړه لکه خوب وړی دی

اوس مې د ما ت زړه د ژغور لو هيله هم نه لرم

چې ته رانه شې، تيارې راشي، نا اميده شمه

د بل څراغ د بلولو هيله هم نه لرم

که بې مقصده هر څوك زړه راوړي نو زړه ورکوم

داسې هم نه ده صرف د ښکلو هيله هم نه لرم

در تلای هم نه شم ، د ويلو جرات هم نه لرم

و الله چې ستا د هيرولو هيله هم نه لرم

او يا وايي :

ستا لپاره

له زړه مې ټولې کرکې وايستلې

اوس مې له ښکار ځينې توبه کړيده

اوس له کريزه بغدادی کوترې نه کتوم

او بس تمامه ورځ لګيا يم

په دامونو کې مرۍ پییمه

سپینو کوترو ته پایزیب جوړوم

او د بې موره وري له اوښکو نه شراب جوړوم

او په سخت زړو یې ارزانه پلورم

چې یې له زړونو کینې کډه وکړي

او یا وایي :

اوس له دوشمن نه کسات نه اخلمه

اوس دغومبسو کور په خته باندې نه پټوم

په مار د کاڼي گذار وکړم

خو خطا یې ولم

بس هسې ځان ترې ژغورم

هغه هم هسې د رحمان د یارانې په خاطر

اوس له خوبونو مرور یم ټوله شپه په تلاوت تیروم

او د قران زرینو پاڼو کې یو نوم لټوم

او یا وایي :

اوس مې ټوپک پراوړه نشته

او له میل نه یې شپیلۍ جوړه ده

پکې د مینې ترانې غږوم

دا ټول د ستا لپاره

ځکه دوی وایي چې جنت کې حورې ستا غوندې دي

د بناغلي علم گل سحر د پوره پیژندگلوۍ لپاره، ما د ده سره یوه ادبي مرکه نیولې ده چې ستاسو ادب دوستانو او د شعر مینانو پام ورته را اړوم .

سحر صاحب اجازه راکړی خپل سلامونه او نیکې هیلې ستاسو درنه حضور ته وړاندی او خپلی پوښتنی پیل کړم.

ډیره مننه زه ستاسو په خدمت کې یم.

پوښتنه : سحر صاحب کوم احساس، شوق او مینې دې ته وهڅولئ، چې د خپلې تولنې لیکوال او شاعر شوئ؟ کوم وخت مو په شعر ویلو پیل وکړ، هڅوونکې او لارښود مو څوک و ؟

ځواب : څه ووایم داسې ځانګړې مینه او علاقه چې زیاتره شاعران یې یادونه کوي ما له شعر سره نه درلوده نه مې هم په دې برخه کې چندان استعداد درلود، هسې خو هغه شعرونه چې د مکتب په کتابونو کې و لکه د نورو شاګردانو خوښیدل خو نه شم ویلای چې له کوچنیوالي مې ورسره مینه وه. بس لکه په ایرو کې چې انګار خښ وي او په یوه پوکې را برسیره شي او لمبې ترې جوړې شي زه خپله شاعري هم همداسې څه بللی شم. د (۱۳۶۲) لمریز کال د میزان میاشت وه چې زه او زما یو بل ملګری شهید درمحمد خپلواک په پکتیا ولایت کې ماښام پخپله تیاره جونګړه کې ناست و. د جګړو کلونه وو، ژوند تریخ و هغه ورځ مو هم په کوټه کې تیاره وه فکر کوم څراغ تیل خلاص کړي و. موږ دواړو له ژونده سرټکاوه. خپلې خبرې مو موزنې کړې. خپلواک به یو بیت وایه ما به بل بشپړ کاوه. بیا به ما یو بیت ووایه خپلواک به بشپړ کړ. هماغه موزونې خبرې مو د کاغذ پرمخ ولیکلې. فکر مو وکړ بس نو شاعران شوو. یو څو نور شعرونه مو هم په ګډه ولیکل له هغه وروسته هر یوه ځانته کتابچه پیدا کړه او خپل شعرونه به مو پکې لیکل. داسې کوم خاص څوک نه و چې موږ و هڅوي بلکې هغه وخت شرایط داسې و چې شاعر ته به چا په درنه سترګه هم نه کتل. موږ هم ډیرو ته نه ویل چې شعر لیکو. خو هغو ته مو چې ویلي و تل به مو خپل شعرونه ورته لوستل چې پوهیدو رانه ښه په تکلیف دي. خو موږ څه کړي وای بل مخاطب مو نه درلود.

د هماغه کال په پای کې زه او خپلواک کابل ته راغلو په کابل کې مو تکړه لیکوال او نقاد ښاغلی زرین انځور او ښه شاعر فاروق فردا ولیدل. هغوی موږ تشویق کړو. دواړه یې د کابل راډیو د ځوانانو لپاره یوې ادبي خپروني ته ور وپیژندلو چې مرکه ورسره وکړو. هغه خپرونه (ولولې) نومیدله چې په اوونۍ کې یو ځل په لس بجې خپریدله. دې مرکې موږ ډیر زیات وهڅولو.

پوښتنه: ځینې لیکوال او شاعران وايي، چې شعر څلور توکه (فکر، احساس، تخیل او آهنګ) رانغاړي، خو پوهاند مجاور احمدزیار د یوه ژبپوهاند او ورسره ورسره د

ادبپوهاند په توګه په خپل اثر ((پښتو بدلمیچ- پښتو شعر څنګه جوړېږي؟)) کې دغه شمېره پینځه ښوولي،(( ژبه- آهنګ- احساس- اندیشه- خیال)). تاسې په دې اړه څه لید لرئ؟

ځواب : شعرته د طبیعي علومو غوندې یو همیشنی تعریف نه شو ټاکلی د وخت په تیرېدو سره د شعر په اړه زموږ اندونو هم تغیر کړی دی او په راتلونکي کې به هم موږ د دا ډول بدلونونو شاهدان واوسو. کوم تعریف چې موږ یوه پیړۍ د مخه د شعر لپاره کاراوه نن ورځ هغه د شعر لپاره زاړه شوي دي. سبا هم ممکن همداسې وي. فکر، احساس، تخییل، ژبه او آهنګ د شعر مهم توکي دي. استاد زیار پخپل کتاب کې د شعر د نورو جوړونکو توکو تر څنګ په ژبني اړخ ټینګار کړی (لارنس پرین) لیکي :

(کولی شو شعر یو ډول ژبه وبولو چې تر عادي ژبې یې د پیغام د رسولو قدرت ډېر دی)

پوښتنه : اروابښاد استاد ګل پاچا الفت چې د پښتو ادب په ډګر کې یو پیاوړې لیکوال، تکړه ادب پوه، لوی او نامتو شاعر و، د شعرپه اړه په خپله یوه لیکنه کې داسې وایي :

( .... شعر له زړه نه الهام اخلي اوله زړه سره کارلري .... عواطف اواحساسات چې د شاعرله زړه نه را نقل شي، شعرترې جوړشي اوپه زړونو اثرکوي .... شعرته د عواطفو او احساساتو د ظهور او د تجلیاتو کوه طور ویلی شو.)

(( ګل پا چا الفت،غوره نثرونه ،۱۳۳۶ کال ،۵۶ مخ ))

د استاد ګل پاچا الفت صاحب د دغو خبرو پر استناد تاسې په شعر کې خیالونه ، الهامونه، احساسات او عاطفي انځورونه څه ډول ارزوئ؟

ځواب : استاد الفت لوی ادبپوه او هیومانیست شاعر و د شعر او ادب په اړه د هغه هره خبره ملغلره ده. استاد لکه څنګه چې پخپلو خوږو او تلپاتې شعرونو کې و، تل یې د شعر په هنري ښکلا تاکید کړی دی لکه چې وایي( تاسې له شعر او شاعر نه علمي حقایق مه غواړئ، د شعر هدف حقیقت نه دی جمال دی )

تخییل د شعر اصلي او جوړونکی توکی دی ورسره فکر هم په شعر کې همدومره ارزښت لري. خیال، الهام احساسات او عواطف ټول ځانګړي بحث ته اړتیا لري چې ممکن د دې مرکې لمن ورته تنګه وي.

پوښتنه : ویل کیري : اوسنی شعر د انځورونو شعردی. تاسې د عیني او ذهني انځورونو په اړه څه لید لرئ، او دا راته وویاست، چې دا انځورونه د شاعر پر شاعرۍ څه اغیز لري؟.

ځواب : انځورونه په دوه ډوله تر اوسه راپيژندل شوي دي. لکه چې تاسي يادونه کړې ده عيني او ذهني انځورونه دي. که د يوه شعري انځور ټول توکي او د دغو توکيو ترمنځ اړيکې عيني وي او خپل منطقي عينيت ولري، عيني انځور دی او که د شعر د انځور د توکيو اړيکې داسې وي چې عينيت يې کمزوری وي او لوستونکی مجبوروي چې د خپل ذهني قوت په مرسته يې يو ځل بيا پخپل ذهن کې تصوير کړي، دهني انځور بللی شو. . .

شاعر د خپل هنري ځواک په مرسته کولی شي پر مادي شيانو سربيره غير مادي شيان هم داسې انځور کړي چې د لوستونکي تخييل راوپښ کړي. فکر کوم هغه شعر چې له انځورونو څخه تش وي د شعر له ډلې راوتلی دی. انځور دی چې شعر ته هنري ښکلا ورکوي. شاعر د کلماتو په وسيله او د تشبييې او استعارو په مرسته پخپل شعر کې موږ ته داسې انځورونه وړاندې کوي چې عادي خلک يې آن له درک څخه عاجز وي.

پوښتنه : آيا تاسو د شعر د ليکلو تر څنګ منثور آثار هم ليکلي دي او که نه، کمو ليکلي دي نو ستاسو په اند شعر د خلکو په راويښولو کې او د ملي احساساتو په ژوندي ساتلو کې زيات اغيز لري او که نثر؟

ځواب : ما د نثر په برخه کې هم کار کړی دی د (مينه او جګړه) په نوم مې يو ناول د (مينه او وسواس) په نوم مې د لنډو کيسو او (شيطان څراغ) په نوم د طنزيه کيسو ټولګه خپره شوې. د ماشومانو لپاره د کيسو يو کتاب او دولس نور کتابونه د فولکلوري څېړنو او نورو برخو کې چاپ شوي دي.

زموږ په ژبه کې د نظم په پرتله د نثر برخه خواره ده موږ ته په کار ده چې ډېر کار د نثر په برخه کې وکړو. تر کومه ځايه چې ستاسې په وينا د خلکو راويښولو خبره ده دواړه خپل خپل ځای لري. ممکن موږ يوه موضوع په شعر کې داسې بيان کړو چې په نثر کې ونه شوکولی هغه ډول يې ارايه کړو همدغسې برعکس. ما څوکاله يوازې شعر ليکه سوکه سوکه متوجه شوم چې ډيرې خبرې شته چې د شعر چوکاټ ورته تنګ دی نو وروسته له هغه مې کيسو ليکلو ته هم مخه کړه.

پوښتنه : د کومو پخوانيو او معاصرو شاعرانو او ليکوالو آثار مو خوښيږي؟ هر شاعر اوليکوال د خپلو ليکنو او شعرونو لپاره ځانګړی سبک لري تاسې په شعر او شاعرۍ کې ځانته خپل سبک لرئ او که د کوم بل سبک پيروي کوئ؟

ځواب : په پخوانيو کې مې د خوشحال بابا او حميد شعرونه ډېر خوښيږي. اوسني خو نام خدا زيات دي نه شم کولی ووايم چې د پلاني ټوله شاعري مې خوښيږي. هر شاعر هم ښه شعرونه لري او هم داسې شعرونه لري چې په لوستلو نه ارزي. تاسې پوښتنه کړې ده کيدای شي د ډيرو دوستانو نومونه راڅخه هير پاته شي. خو کولی شم ووايم د استاد محمد

صديق پسرلي، درويش دراني، کاروان، سعود، پروين ملال، شفيقي خپلواک، ومان نيازي، امين الله دوادزي، بهار ناصر او څو نورو شاعرانو ډير شعرونه مې زړه ته لاره پيدا کوي. تر هغه ځايه چې د سبک خبره ده لوستونکي دې قضاوت وکړي ماته نه را معلوميږي.

پوښتنه : هر هنرمند په خپل هنري اثر کې کوشش کوي چې د مختلفو حوادثو او پيښو په اړه خپل افکار، تصورات او خيالونه په ډير عالي شکل ترسيم کړي ، خوله بده مرغه زموږ په هيواد کې يو شميرشاعرانو، ليکوالو، سندرغاړو اوفرهنګيانو او داسي نورو برخلاف د خپلو اصلي دندو او اهدافوعمل کړئ دی اوعمل کوي، د بيلګې په توګه يو شمير شاعران (مدح سرايي) کوي او شعرونه يې په شعارونو بدل شوي دي او د خپل حريف پرضد په خپلو آثارو کې يې ډير حساسيت ښودلی دی او يا يې ښيي. مهرباني وکړی تاسو د يو ادبي او فرهنګي شخصيت په توګه په دې تړاو خپل نظر راته بيان کړئ؟

ځواب : په کار ده موږ شعر ته په درنه سترګه وګورو. د خپلو اهدافو لپاره يې وسيله ونه ګرځوو، د تعهد دروند بار ور په اوږو نه کړو. (ادګارالن ) وايي : که تصادف په پام کې ونه نيسو نوشعرله وظيفي يا حقيقت سره سروکارنه لري. هغوی چې غواړي پخپل شعر يو څوک خوشحاله کړي او بل وغندي له خپل هنر سره يې جفا کړې ده.

پوښتنه : ستاسو په اند سپين شعريا نوی او آزاد شعراو کلاسيک شعرڅه توپير لري ؟ د لومړي ځل لپاره د نوي ، سپين يا آزاد شعر مفکوره څه وخت او د چا له خوا په پښتو ادب کې لاره موندلې ده ؟

ځواب : پخوا د شعر په تعريف کې يوازې وزن او قافيې ته ارزښت ورکول کيده او هغه منظوم کلام چې وزن به يې برابر و او قافيې به يې جوړې وې شعر بلل کيده. فکر،تخييل، استعارې او هنري او انځوريز بيان د شعر په رغوونکو توکو کې نه حسابيدل. زياتره کلاسيکو شعرونو همدا بنه لرله. خو اوس يو نسبتاً منل شوی تعريف ورته دا کارول کيږي **شعر په لنډه او اهنګينه ژبه د فکر او تخيل له عاطفي تړون څخه رغيدونکی شکل دی**
سپين شعر په انګريزي ادب کې د ډرامو له پيله شروع کيږي هغه وخت به ډرامي په ستيج وړاندې کيدې او يوشمير يې منظومې هم وې. په شرقی ادب کی ددې تاريخ ډير وختي او مثالونه يې په ويدونو، مذهبي کتابونو په متونو کې موندل کيږی اومقفه او مسجع نثرونه ددې مثالونه دي ازاد شعر ځانته يو بيل قسم شاعري ده چی پيلوونکی يې يو فرانسوی شاعر بلل کيږي چې بيا وروسته آزاده شاعري په نوره اروپا کې خوره شوه بيا اردوادب ته را ګډه شوه په ايران کې نيما او نورو شاعرانو هم ورته کار وکړ ددغه ډولونو شعرونو ځينې بيلګې موږ په پښتو فولکوريکو سندرو او د نقلونو او اتڼ په نارو کې هم ليدلی شو.

پوښتنه : که چیرې د خوشال خان ختک او رحمان بابا شعرونه ته ځانګړې پاملرنه وکړو، ښايي د شعرونو ډېرې بیلګې او خواوې یې د جولې او منځپانګې له مخې توپیر، ونه لري خو څه داسې خواوې او څیزونه هم شته، چې د دوی شعرونه سره بیلوي. تاسو په دې اړه څه لید لرئ؟

ځواب : که په لنډو ټکو کې یې ووایو د رحمان بابا شاعري تصوفي اړخ لري او د خوشحال بابا په شعرونو کې حماسه، انساني مینه، وطنپالنه او نور ټولنيز موضوعات پیاوړي دي.

پوښتنه : تاسې په شعر کې تاریخي اسطورې چې د یو ملت د افسانوي ژوند مفاهيم څرګندوي څه ډول ارزوئ؟ او دا راته ووياست چې د کومو شاعرانو په شعرونو کې د انساني او فطري اساطيرو مفاهيم خپل ځانګړې ځای موندلی دی؟

ځواب : ښه شعر د خپلې معلومې معنا ترڅنګ یوه بله معنا هم لرلی شي یا کله چې یوه شي ته اشاره کوي د سړي یوه بل څه ته هم ورپام کیږي که په شعر کې پخپل ځای د اسطورو ذکر وشي زما په باور د شعر د ښکلا په زياتولو کې مرسته کوي. لوستونکی یوې بلې خواته بيولی شي او ډير څه ورپه یادولی شي د لوستونکي ويده تخييل راويښولی شي. زموږ د يوشمير اوسنيو شاعرانو په شعرونو کې همدا ځانګړتیا شته. د اروابناد اسحاق ننګيال، علي ګل پيوند، کاروان صاحب، سعود، درويش، ومان نيازي، احمد تکل، ليوال، نظيف تکل او نورو په شعرونو کې اساطيرو ته ځای ځای اشارې شته.

پوښتنه : مهرباني وکړی د لنډيو په اړه خپل مالومات راسره شريک کړئ، او راته ووایاست لنډې چې د پښتو ژبې د ولسي سندرو ډيره مهمه او په زړه پورې برخه ده او هر پښتون ځلمی او هره پښتنه پيغله پرې پوهيږي، د ښکلا، راز او رمزونه يې په څه کې وينې؟

ځواب : په لنډيو ډيرې څیرنې ته اړتیا ده. د ښکلا په راز يې بايد یو کتاب خبرې وشي. که په یوه جمله کې یې ووایم بايد زياته کړم چې ښکلا يې پخپل طبعي والي ده. یو وخت مې فکر کاوه چې د لنډيو د ښکلا راز به د هغو په موسيقي کې وي چې زياتره وخت پکې توري او کليمات تکراريږي او ښکلې موسيقي پیدا کوي لکه دا لنډۍ:

د ملکنډ د سر طوطي وای

په اور ستي وای تومتي نه وای میينه

په دې لنډۍ کې طوطي، ستي ، تهمتي د ياګانو تکرار د لنډۍ موسيقي شکلې کړې ده.

دا لنډۍ وګورئ: ته د يوې شوې زه د بل شوم

په ژرنده دل شوم ژوند مې تورې خاورې شونه

په دې لنډۍ کې هم د بل او دل د لامونو تکرار موسيقي خوړه کړې ده. دا لنډۍ مې د ادبياتو په اتم جشن کې څو تنو ليکوالو ته وويله ټولو خوښه کړه ممکن د موسيقي او نوې موضوع په خاطر. دا لنډۍ هماغه شېبه ما پخپله جوړه کړې وه ما ويل که شاعرانو خوښه کړه پخپل هغه کتاب کې چې لنډۍ مې راټولې کړې شامله کړم. په هغه مازديګر مې استاد اسدالله غضنفر ته هم دا لنډۍ وويله هغه وويل: ښه لنډۍ ده خو روشنفکري ده. زه پوه شوم چې په لنډيو کې لا ډېر څه شته چې موږ نه ورباندې پوهېږو.

که هرڅومره يې موسيقي د کليماتو په زور ور ښکلې کړو چې خپله طبعي او ښکلې نه وي لنډۍ نه ده. ناوې ته سينګار کوي که ناوې ښکلې وي سينګار يې ښکلا لا زياتوي که ښکلې نه وي سينګار يې که ظاهراً ښکلې هم کړي ټول به وايي د پوډرو زور دی. نو د لنډيو په اړه زياتړو څېړنو ته اړتيا ده.

پوښتنه : د متلونه په اړه چې ز موږ د پښتو ادب يوه بډايه زيرمه او شتمني ده څه ليد لرئ، دا چې زياتره شاعران په خپلو شعرونو کې د متلونو نه ګټه پورته کوي د دې اغيز او دليل څه ډول څېرئ؟

ځواب : د متلونو د کيسو په اړه مې دوه کتابونه ليکلي او چاپ شوي دي اوس په يوه بل کتاب بوخت يم. زه فکر کوم ټول متلونه بايد د کاڼي کرښې ونه بولو. له متلونو سره احترام اميز انتقادي برخورد ته ضرورت دی. ډير متلونه شته چې اوس د کاڼي کرښې نه دي. څو نمونې به يې ووايم، ښه مه کړه بد نشته، سل دې ومره يو دې مه مره، تره که ښه وای خدری به ښه و، چې مور ميره شي، پلار پلندر شي... او داسې نور چې په اړه يې څېړنه په کار ده. يو شمير هغه شاعران يا کيدای شي ووايم ناظمان د خپل پيغام د ښه رسولو لپاره پخپلو شعرونو کې له متلونو ګټه پورته کوي که په هنري انداز وي نو اغيز به يې لا زيات وي.

پوښتنه : پښتو غزل چې زموږ د پښتو ادبياتو يو غوريدلی ژانر او صنف دی، کولای شي چې د نوروژبو سره په ځانګړې توګه هغه وخت چې د موسيقي په پردو کې په ښکلي کمپوز کې زمزمه شي، سيالي وکړي، تاسو د پښتو غزلو اصالت او سنتي ځانګړتياوې په څه کې وينئ؟

ځواب : پښتو يوه خوږه او سندريزه ژبه ده. د ميني ژبه ده غزل هم تر ډيره د ميني شعر دی. ممکن په نورو ژبو کې هم غزل خوندور وي خو په پښتو ژبه کې زيات په زړه پورې

دی. اوس په غزل کې مختلفو موضوعاتو ته اشاره کيږي د مينې ترڅنګ ټولنيز پيغامونه هم ليږدوي. د غزل په برخه کې ډيرو وتليو شاعرانو خپل قلمونه ازمويلي او دغه صنف يې لا په زړه پورې کړی دی.

پوښتنه : دا څرګنده ده چې د هراثر کرکتنه او نقد ځانته خپل اصول او مقررات لري، تاسو زموږ د عصراوسني کره کتنې څرنګه څيرئ، او دا راته ووایاست، چې ولې په هيواد کې د ننه او بهر د ادبي نقدونو په تړاو ادبي او فرهنګي مرکزونه چې هلته با صلاحيته ادبي او فرهنګي منتقدين او کره کتونکي موجود وي نه جوړيږي؟

ځواب : زه فکر کوم کره کتنه اوس تر ډيره زموږ په ادبي غونډو کې عامه شوې ده. په کابل کې د افغان ادبي بهير او ميرمن کلتوري – ټولنيز بهير په اوونيزو غونډو کې هره اونۍ د ليکوالو په اثارو کره کتنې کيږي همداسې په سيمه ايزو بهيرونو کې هم په هره غونډه کې تر مشاعرې دمخه کره کتنې کيږي. همداسې د ليکوالو په چاپ شويو اثارو کره کتنې ليکل کيږي.

په چاپ شويو اثارو چې کومې د مخکتنې غونډې کيږي په هغو کې هم د ستاينو تر څنګ نقدونه هم کيږي. که له پخوا سره يې پرتله کړو اوس زموږ د کره کتنې حالت ډير ښه شوی دی.

پوښتنه : تاسو رياليزم، رومانيزم او سمبوليزم په ادبي ژانرونو کې او په ځانګړي توګه په شعر کې څرنګه څيرئ؟

ځواب : د اروابناد اسحاق ننګيال خبره به راواخلم چې يو وخت يې ويلي و، ښه شعر دې وي چې له هر ايزم څخه وي.

پوښتنه : ښاغلی صديق کاوون توفاني چې زموږ د هيواد يو مخکښ او نوښتګر شاعر، ادبي او فرهنګي شخصيت دی ، د استاد زيار د علمي او ادبي شخصيت په اړه په خپله يوه ليکنه کې داسې کښلي دي :

( .... زيار صيب د خپلو نورو سترو کارونو تر څنګ، د نويو ژبپوهنيزو او ادبپوهنيزو لارو چارو په دودونه کې خورا ډېر زيار ايستلی او له بې شميره ستونزو سره يې مبارزه کړې ده .

په اوسنۍ پښتو ژبه کې د ښاغلي ډاکتر زيار د قلم له برکته اوس اوس يو زيات شمير داسې لغتونه او ګړنې استعماليږي چې څو کاله مخکې چا اورېدلي هم نه وو او پر ځای يې د نورو ژبو له تورو او لغتونو څخه کار اخيستل کيده ... )

تاسي په پښتو ادب کې او په تیرا بیا په شعر کې د ژبې پوخوالي، سوچوالي، قوت او بیان، فصاحت او بلاغت، میرنتوب او حیا، دروندوالي او سپیڅلتیا څه ډول ارزوئ؟

ځواب : پوهاند استاد زیار او نورو مشرانو لیکوالو او استادانو زموږ شعر و ادب ته ډیر څه ورکړي دي چې باید ستاینه او قدرونه یې وشي. شاعر د معیاري او سوچه ژبې ایجادوونکی دی. ددې تر څنګ چې د شعر نورو نورمونو ته باید پام وکړي په کار ده د ژبې بداینې ته هم توجه وکړي. ژبه له خپلو ویونکو پردی نه کړي او ژبني معیارونه تل په پام کې ونیسي.

پوښتنه : په هیواد کې د ننه او بهر په یو شمیر راډیویي او تیلویزوني خپرونو کې ادبي اوفرهنګي پروګرامونه او برنامې خپریږي، د دغو خپرونو په تړاو ستاسو لید څه دی؟

ځواب : په یو شمیر راډیوګانو او تلویزیونونو کې ادبي خپروني خپریږي. خو په دې وروستیو کې یې په خصوصي تلویزیونونو کې برخه خواره شوې ده. اوس یوازنۍ ادبي خپرونه چې حساب پرې کیدای شي په ازادي راډیو کې د ازادي راډیویي مجلې فرهنګي خپرونه ده چې استاد اسدالله غضنفر یې چمتو کوي. په نورو رسنیو کې یې هم دا ډول خپروني شته چې پخپل ځای کې د ستاینې وړ دي.

خو موږ لکه څنګه چې اوس یوه سراسري د لیکوالو اتحادیه نه لرو همداسې د ژوندون او قلم په څیر ادبي مجلې او جریدې هم نه لرو چې دا یوه تشه ده.

پوښتنه : د کوزې پښتونخوا د شاعرانو او لیکوالو فعالیتونه، کارنامې، علمي او ادبي آثار څه ډول څیرئ ؟

ځواب : ما د پښتونخوا د ادبي فعالیتونو په اړه کومه ځانګړې څیړنه نه ده کړې خو لکه څنګه یې چې وینو او اورو هلته هم اوس همیشنۍ فعالې کلتوري ټولنې منځ ته راغلې دي. په پښتونخوا کې هم لیکوال او شاعران ډیرې هڅې کوي موږ یې وخت په وخت د ښکلو ادبي او علمي اثارو د خپرولو شاهدان یو چې د ډیر قدر وړ دي. په کار ده د افغانستان او نورو پښتنو سیمو د لیکوالو ترمنځ فرهنګي اړیکې نورې هم پراخې شي. سره له دې چې افغان کلتوري ټولنو جرګې په دې برخه کې زیات فعالیتونه کړي دي خو لا هم ستونزې شته باید دغه اړیکې لا پراخې او بنسټیزې شي.

پوښتنه : ستاسو په اند په هیواد کې د ننه او بهر، ادبي ناستې، غونډې، ادبي او فرهنګي ټولنې د پښتو ادب د ودې، پراختیا او پرمختګ لپاره څه اغیز لري؟

ځواب : په هیواد کې دننه او بهر ادبي ټولنې زموږ د ژبې او ادب په پرمختیا او پراختیا کې زیات رول لري. یو وخت چې دا ټولنې نه وې او هر څه د دولت په انحصار کې و په

دې برخه کې کوم د کتنې وړ پرمختګ هم نه تر سترګو کيده. خو دادی وينو چې د افغانستان په مرکز او ولايتونو او هم له هيواد بهر کلتوري ټولنې جوړې شوې دي. د همدغو ټولنو په نوبت ادبي غونډې او سيمينارونه جوړيږي. د ليکوالو اثار چاپيږي کره کتنې کيږي او ګډې غونډې او مشاعرې جوړيږي چې دا ټول زموږ د ژبې او ادب په پرمختګ ډير اغيز لري.

پوښتنه : ستاسو پيغام د ډيوتکړه او نوښتګر اديب، شاعر اوليکوال په توګه زموږ ځوانو شاعرانو او ليکوالو ته څه دی؟

ځواب : مطالعه او تل مطالعه .

پوښتنه : مهرباني وکړئ، د افغانستان په اوسني حساسو سياسي او تاريخي شيبو کې او د اوسني کړکيچنو او تراژيکو حالاتو په اړوند د اديبانو، شاعرانو اوليکوالو اغيزمن نقش او اصلي رسالت او دندې راته په ګوته کړئ؟

ځواب :

شاعران په زړونو کې د کرکې او کينې پر ځای مينه کري. شاعران موږ ته له ژوند سره د مينې درس راکوي. که ټول خلک له ژوند سره مينه ولري او د کينو پر ځای مينې ته رجوع وکړي موږ به په راتلونکي کې اوسنی ستونزې ونه لرو.

- له تاسو ګران او قدرمن وروړعلم ګل سحر څخه ډيره ډيره مننه چې زما پوښتنو ته مو پوره او کره ځوابونه راکړل. ستاسو د برياوو او برياليتوبونو په هيله.

- ډيره مننه قدرمن مسعود صاحب چې ماته مو له خپلو خلکو سره د يو ځل بيا خبرو زمينه مساعده کړه تر څو يو څو د زړه خبرې ورسره شريکې کړم او افغان ادب ته د خدمت په لاره کې ستاسې د نه ستړې کيدونکو هلوځلو ستاينه کوم ما له افغان ليکوالو او شاعرانو سره ستاسې مرکې لوستې دي تاسې په دې برخه کې ډير خدمت کوئ دا کار زموږ د ادب تاريخ په بشپړونه کې هم د قدر وړ کار دی. ستاسې برياليتوب غواړم .

- ګرانو د ادب مينه والو زه د ښاغلي علم ګل سحر سره د ده د ادبي اثارو په تيره بيا کيسو، داستانونو او ناوولونو په اړه يوه بله مرکه هم لرم هيله من يم که په دې برخه کې پوښتنې او وړانديزونه لرئ ما ته يې په دغه پته کې راوليږئ:

( a.masoud@hotmail.com )

په ډېر درنښت او ادبي مينه : انجنير عبدالقادر مسعود